**ټوين ريورز يونيفايډ سکول ډسټريکټ**

د زده کوونکي روغتيا، ښه والی او ساتنه

**د ښوونځي په دوران کې د ښوونځي د مسئولينو لخوا د درملو د اداري لپاره له والدينو غوښتنه**

ښاغلو والدينو:

1 . روغتيايي درملنه د مور پلار او کورنی د ډاکټر مسئوليت دی. درمل ډېر کم وخت په ښوونځي کې ورکول کيږي. يوازينۍ استثناوو کې ځانګړي يا جدي ستونزې دي چې کله د درملو ورکولو اړتيا ضروري وبلل شي.

2 . د ښوونځي نرس ډېر ځله له يو څخه په زياتو ښوونځيو کې خدمات وړاندې کوي نو شوني ده چې هره ورځ د درملو د اداري لپاره موجود نه وي. امکان لري چې سرښوونکی، سکرتر يا بل کار کوونکی دا مسئوليت په غاړه واخلي؛ خو بيا هم له هغه څخه دا غوښتنه نه شي کېدای چې دا مسئوليت په غاړه واخلي مګر هغه مهال چې پوره ضروري وي.

<u>په دې توګه له والدينو/پالونکي غوښتنه کيږي، چې څومره ژر کېدای شي د کورنۍ د ډاکټر په مرسته، د ښوونځي له ساعتونو څخه په باندې وخت کې د درملو ورکولو لپاره يو مهال ويش جوړ کړي.</u>

3 . په ښوونځي کې ورکول کېدونکو درملو د اداري لپاره ځانګړي معلومات به په هغه ليکلي بيان کې شامل وي کوم چې د حاضري ورکوونکي ډاکټر لخوا چمتو کيږي، په دې ليک کې به په روښانه ډول هغه حالت څرګند شوي وي دکوم لپاره چې بايد درمل ورکول شي، څومره ورکړل شي، د يو ډوز اندازه، او د دې اړوند معلومات.

4 . ځانګړي معلومات به په بېړنۍ درملنه کې شامل وي چې د حساسيتي غبرګونونو لپاره شوی وي لکه د مچې چيچلو له کبله، په دې کې څرګنده ويل شوي چې کوم ډول غبرګون و چې دا درمل ورکړل شوی ده، د بېلګې په ډول، سيمه ايز، عمومي، خفيف يا شديد.

5 . **<u>ټول درمل، په شمول د هغو چې نسخه نه ده ورکول شوی (له نسخې پرته دارو ورکول)</u>**، له والدينو څخه د ښوونځي د کار کوونکو لپاره د لاسليک شوي ليک غوښتنه کوي تر څو د درملو اداره وکړي لکه چې **<u>د حاضري ورکوونکي ډاکټر لخوا په ليکلي ليک کې</u>** توضيح ورکول شوی ده. مور پلار/پالونکی به ښوونځي ته د درمل ورکولو لپاره په راتګ مسئول وي که چېرې د والدينو لخوا لاسليک شوی ليک يا د ډاکټر ليک بشپړ شوی نه وي.

6 . د هر تعليمي کال په سر کې ښوونځي ته د داخليدو پر مهال، او يا د درملو په ترتيب کې د کوم بدلون له کبله بايد د درملو ترتيب د حاضري ورکوونکي ډاکټر او والدينو لخوا لاسليک شوي ليک په واسطه نوی شي. د غوښتل شوي اختيار څخه پرته به په ښوونځي کې درمل ونه ساتل شي. **دا د ټي ار يو ايس ډي د کار کوونکو مسئوليت نه دی، چې د ايم ډي دفتر ته د ايم ډي خالي د درملنې د اختيار فورمې د فاکس له لارې واستوي، او نه دا مسئوليت لري چې تکراري فاکسونه واستوي او يا ټلفونونه وکړي.**

7 . ښوونځي ته استول شوي ټول درمل بايد په **<u>اصلي پاکټ</u>** کې وي، او يو بالغ يې انتقال کړي، نه زده کوونکی. هغه درمل به ونه منل شي او نه به ورکول شي که چېرې دا درمل په کور کې جوړ شويو خلطو، پاکټونو يا خلاصو خلتو کې اچول شوي ورکړل شي.

8 . د ښوونځي کار کوونکي/ نرسان د دې مسئوليت نه لري چې له وخته پاتې شوي يا په کور کې ناوخته شوي درمل ورکړي.

9 . فورمې به د هر ښونځي په دفتر کې موجود وي.

مرجع: د کلفورنيا تعليم کوډ ۴۹۴۲۳

PASHTO
PARENTS INFORMATION REGARDING MEDICATION